دوکتور م ، عثمان تره کي


۰۸ اپریل ۲۰۱۳

## د نړیوال نظامي ائتلاف د جنګي جنایتونو څېړنه

د شوروي د امپراتورۍ په لنګیدو او د نړۍ په یوه قطبي کیدو نه وروسته د امریکا په وړاندې مقابله وزنه له منځه لاړ. نړۍ د امریکا د ستراتژیکو لوبو په میدان بدل شو. افغانستان او عراق د قدرت د ویشلو د نوي نظام د تشخص د لابراتوار حیثیت وموند. په لابراتوار کې د کمیاوي وسلې نه نیولې تر پرمختللي د حربي تکنولوژۍ حیرانونکي تولید ، « میراژ » او «آواکس» الوتکې وآزمایل شو. نړیوالو قوانینو او بشري حقونو ته درناوي د لابراتوار د فزیکي قوانینو تر اغیز لاندې حاشیې ته ولوید. افغانانو سره د لابراتوار د موږک په حیث چلند وشو. د دیموکراسي تر پلمې لاندې بی شمیر جنایتونه ترسره شول. تول د ملګرو ملتونو تر بیرغ لاندې.

بشري حقونو او د جګړې قوانینو د لویدیزو هیوادونو د خپلمنځي اړیکو او معاملاتو زیرنده ده . د تاریخ په اوږدو کې نړیوال قوانین د کانوانسیونونو په چوکات کې راجستر ، تسجیل او تشریع ( مشروعیت ورپه برخه کول ) شوي دي.

د نړۍ په کچه د زورواکانو د برلاسيّ په وجهه باندې نړیوال حقوقي نظام پدې ندي بریالي شوې چه د جګړې مخه ونیسي . خو که انسانان جګړه بندولې نشي هغه ته باید د ښاروېو د جګړې د توپیر په موخه لږ تر لږه د مضبوطو قوانینو د لارې انساني بڼه ورکړي . د جګړې قوانین د همدغه مقصد د پاره تنظیم شویدي .

د افغانستان په جګړه کې سره له دې چه لویدیزوال د جګړې د نړیوالوکانوانسیونونو د یو اړخ په توګه دنده لري چه د جګړې قواعدو ته درناوي ولري ، خو د هغې په سرغړونې سره تاریخي « ریکارد » په ځاي ایښی .

د جګړې د قوانینو د سرغړونې بهترین مثال په کلیو او باندو باندې د ناتو هوائي بریدونه دي چه په ترڅ کې یې په زرګونو ملکیان وژل یا ژوبل شوي او عامه شتمنیو ته تاوان رسیدلی دي.

د ناتو ګن شمیرې جنګي عملیات د مخالفینو نه د غچې اخیستنې په مقصد ترسره شوي ده . هغه ځه چه د جګړې په حالت کې ورته د کنترول نه وتلې حیواني غرایز ویلي شو. دلته خبره د جنایت نه تیرې دي. سناریو داسې پیلیږي : په یوه کلي کې د وسله وال مقاومت دوه کسان د بهرنیو قوتونو په قطار باندې دزې کوي . دواړه د معرکې نه تښتي . یو ساعت وروسته د دغه واقعیت په نظر کې نیولو سره سره چه برید کونکو د سیمې نه لرې مصون ځای ته پناه وړي، کلي په بشپړه توګه تر هوایی ګوذارونو لاندې نیول کیږي. په سلګونو ملکیان ژوند له لاسه ورکوي . دغه ارادي او پلان شوې جنایت یوه موخه لري : کلیوالو دیته اړ شي چه د کلي په کچه د ناتو د بمباریو د ویرې نه د وسله والو مخالفینو د راتګ او عملیاتو مخه ونیسي.

احمد شاه د پنجوائي اوسیدونکي پژواک خبري آژانس ته وایي : « ... درې ورځې مخکې د زنګ آباد په څلور لارې

کي يو شمير بهرني فوجيان د يوه چاودني په پيښه کي ووژل شول. د پيښي نه وروسته يو شمير بهرني صاحب منصبان ، قومي مشران يوې غونډې ته راوبلل. په غونډه کي بهرنيان غونډې ګډونوالو ته وويل : چه که د چاودني عاملين راپيدا نکړې د هغې غچ ستاسو د ښځو او ماشومانو نه اخلو... صباحي « رابرت بالس » د شپې په تياره کي د خپلو ملګرو سره د ملکيانو په کورونو باندې بريد وکړ چه په کې ۲۵ تنه شهيدان او پنځه تنه زخميان شول ( د مارچ ۱۲ ، ۲۰۱۲ م کال ) .



همدا اوس امريکا د « رابرت بالس » جنايت ، د « سياسي ترماميتر » په بنه کاروي: کله چه د يو نوي جنايت پام بايد بلې خواته واړول شي يا کله چه اړتيآ احساس شي چه بايد د جګړې اصوليت او عدالت غوښتونکي اړخ نمايش ته اينودل شي ( د مثال په توګه د وسله والو مخالفينو سره د خبرو اترو په بهير کي ) ، امريکايي چارواکي د «رابرت بالس » محاکمه تر لاس لاندې نيسي. دا احتمال شته چه نوموړې ته د کاذب ادعا تر بيلګې لاندې د ليوني په حيث برائت ورکړ شي .

د « وړيا جنايت ستراتژي » د « رابرت بالس » په دوسيه باندې ايسار نه پاتي کيږي: په يوه لسيزه کی د عزيزآباد (هرات) نه نيولي تر کونړ او د هلمند نه نيولي تر کندوز او دشت ليلي پورې( ۳۰۰۰ زره شهيدان ) اتکل نيم ميليون بيګناه افغانان د يوه رذيلانه او ماجراجويانه جګړې قرباني شويده .

په افغانستان کي سوله او سياسي ثبات او د نړيوال نظامي ائتلاف د غړيو ( او په ځانګړې توګه امريکا ) سره نورمالي اړيکي هغه وخت تأمينيداي شي چه وړيا جنايتونو ته رسيدګي وشي . يعني حق خپل طبعي ځای ونيسي .

د همدغه مقصد د پاره بايد د افغانستان نه د بهرنيو ځواکونو د وتلو نه مخکي د ملګرو ملتونو په سروالي د جنايتونو د څيړني يو کمسيون جوړ شي . د څيړني په کمسيون کي نړيوال سره صليب ، د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو کمسيون ، د اروپا د اتحاديی د بشر د دحقونو کمسيون او په جګړه کي ځيني ناپيلي هيوادونه ګډون درلودلاي شي .

د تاريخي تجربي په نظر کي نيولو سره (د ويتنام مثال) افغانستان هيڅکله دومره پياوړتيا ترلاسه نکړي چه اشغالګرو ځواکونه ديته اړ کړي چه افغانانو ته د برغليزې جګړی تاوان ورکړي: خو د تينګ احتمال له مخي به په جګړه کي دخيل هيوادونه افغانستان د خپلي اوږدمهالي اقتصادي مرستي نه بې برخي نکړي .

که موږ په افغانستان کي د بهرنيانو د جنايتونو يوه دوسيه ځان سره ونلرو ، د دوي مرستي د « خيرات » په بنه مطرح کيږي . خيرات زموږ ملي غرور تر سؤال لاندی راوړي او د اوسني مقاومت د جګړې د منطق سره په تقابل کي واقع کيږي. د جنايتونو د دوسيي په درلودلو سره ، مرستي د شهيدانو د « ويني بيه » ( خون بها ) او د « جګړې تاوان » په دول يعني د يو « حق » په توګه ( سره له دې چه د برغلګرو قوتونو له خوآ نه پيرندل شي ) به رامنځته

شي.

د بهرنیانو د جنګي جنایتونو په اړوند د دوسيي تنظیم د قطر د مذاکراتو په اجندا کی باید ځانګړې ځاي ولري .

« پاي»

فرانسه

د اپریل ۸

۲۰۱۳ م کال